مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باش

پیرمحمد کاروان ۲۰۲۶/۰۱/۲۳

# راشه بې لېټا نهٔ شي او بې ستا له موسکا نهٔشي

راشه بې لېټا نهٔ شي او بې ستا له موسکا نهٔشي
زړه مې داسې قُلف دی چې په هېڅ کيلي به وانهٔشي

دې مرغهٔ ته دا رنګې، وزرې ترل ظلم دی
څه آسمان خو نه ورانوي ولې په هوا نهٔ شي

ستا د دوو ملالو سترګو بو نظر درمان زما
دا کار په طبيب نه شي، په دم او په مُلا نهٔ شي

حال بدلول، ځان جوړول زړه مينځل په اوښکو دي
ملا په زلفو وتړه په تشه توره ملا نهٔ شي

جوړ چې وي شرنګا کوي، ماتېږي هم په شرنګ سره
دا سرې بنګړې دې ګوزاره يې بې شرنګا نهٔ شي

تللی کوچېدلی دی مطرب د کوم غمګين سرود
راغلم په ګودر له جينکئيو نه خندا نهٔ شي

نيمه شپه لمدې سترګې او سپوری د رنځور ځراغ
نه منم کاروانه چې قبوله دې دعا نهٔ شي

—

پيرمحمد کاروان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ